Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English

ISSN: 2584-0975 (Online)

Vol.02(02), Apr 2024, pp, 06-18

Journal homepage: https://sprinpub.com/smjppe

Research article

# Research of Mysticism's Terms in (Da Wakht Zarb) Book

# په "د وخت ضرب" اثر کې د تصوفي اصطلاحاتو څېړنه

***Attaullah Muhammadi[1], Khalilukkah Sarwari[2], Mohammad Edriss Masoom[3], Naseer Ahmad Tayid[4], Sayed Ahmad Qani[5], Ahmad Shah Nawabi[6]***

*[1,3,5,6]Education Faculty, Department of Pashto Language & Literature, Kandahar University*

*[2,4]Language and Literature Faculty, Department of Pashto Language & Literature, Kandahar University*

**پوهنمل عطاء الله محمدي[1]، پوهنیار خلیل الله سروري[2]، پوهنیار محمد ادریس معصوم[3]، پوهنمل نصیراحمد تائید[4]، پوهنمل سیداحمد قانع[5]، پوهنیار احمدشاه نوابي[6]**

[1,3,5,6]پښتو ژبې او ادبیاتو څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، کندهار پوهنتون

[2,4]پښتو ژبې او ادبیاتو څانګه، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، کندهار پوهنتون

## ARTICLE INFO

***Keywords:***
Da wakht Zarb, mysticism, Sufism, Atayi Mullah, terms, samples

**کلیدي کلیمې:** د وخت ضرب، تصوف، عرفان، عطایي ملا، اصطلاحات، نمونې.

***Article History:***
Received: 15-02-2024
Accepted: 12-04-2024
Published: 20-04-2024

***Cite this Article:***
Muhammadi, A. (2024). Research of Mysticism's Terms in (Da Wakht Zarb) Book: په "د وخت ضرب" اثر کښې د تصوفي اصطلاحاتو څېړنه. Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English, 2(2), 07–18. https://doi.org/10.55559/smjppe.v2i2.288

## ABSTRACT

Literature is the best way to improve and reform a society. The purpose of literature according to scholars is ethics for the sake of ethics and ethics for society. In the purposes of literature, a part of the second objective is mysticism. Mysticism (Sufism) means recognition, according to the dictionary meaning and its literal interpretation is to get to know Allah (SWT). Sufism is equivalent to doing, in the dictionary it refers to wearing white clothes and in the literal term; It is a practical strategy that purifies the heart or inner self. Sufis and mystics have always used their words for the reformation of the society, and they have also placed themselves in the first row in the practical field. With regard to this, Mr. Abdul Hadi Atayi Mullah can be named as an example who has Sufism and mysticism in his written works. This research has been done on Sufism and mystical patterns in the written work of Mr. Mulla's (Da Wakht Zarb). Through bibliographical study employing descriptive method, patterns such as ( آب، آدم، آه، ازل، ابد، اثر، اثبات، اخلاص، پیاله، تقوی، توری (حرف)، جام، جور او حفا، حیرت، دلبر، رند، روح، زهد، ساقي، سفر، شیخ، صوفي، قلندر، کرامت، مُطرب، میخانه، وفا او ګل) have been identified. This article first presents general information followed by the main issue. The main issue includes the term itself, its phonetic form, pronunciation, dictionary meanings, literal meanings and its definitions with relation to Mysticism (Sophism).

**لنډیز**

ادبیات د ښې ټولنې د اصلاح او سمون تر ټولو غوره لاره ده؛ پوهانو د ادبیاتو موخه: ادب د ادب له پاره او ادب د ټولنې له پاره؛ ښوولې. د ادب په موخو کې د دویمې موخې یوه برخه د عرفان او تصوف ده؛ عرفان په لغت کې پېژندلو ته وايي او په اصطلاح کې خدای جل جلاله پېژندلو ته عرفان وايي؛ تصوف د تفعل پر باب برابره صیغه ده، په لغت کې وړینو جامو اغوستلو ته ویل کېږي او په اصطلاح کې هغه عملي تګلاره ده، چې د زړه یا باطن تزکیه پرې کېږي؛ صوفیانو او عارفانو همېشه، د ټولنې د اصلاح او سمون له پاره، له خپل کلام څخه کار اخیستی او هم یې په عملي ډګر کې ځانونه په اول صف کې درولي؛ په دې برخه کې یو هم ښاغلی عبدالهادي عطایي ملا دی، چې په خپل کلام کې تصوفي او عرفاني نومونې کار کړي دي؛ دا څېړنه د ښاغلي ملا د (د وخت ضرب) اثر کې پر تصوفي او عرفاني نومونو باندې شوې ده، چې آب، آدم، آه، ازل، ابد، اثر، اثبات، اخلاص، پیاله، تقوی، توری (حرف)، جام، جور او حفا، حیرت، دلبر، رند، روح، زهد، ساقي، سفر، شیخ، صوفي، قلندر، کرامت، مُطرب، میخانه، وفا او ګل؛ د کتابتوني څېړنې په وسیله موندل شوي او د تشریحي مېتود په وسیله تشریح شوي دي. په دې څېړنیزه مقاله کې اول عمومي معلومات راغلي دي؛ ورپسې اصلي موضوع شروع شوې ده؛ په اصلي موضوع کې اول اصطلاح، بیا یې فونیټیکي بڼه؛ په درېیمه برخه کې یې تلفظ، ورپسې یې لغوي ماناوې، بیا یې اصطلاحي مانا راوړل شوې ده او په پای کې هغه تعریف راوړل شوی دی، چې په عرفان او تصوف یا سلوک کې د یادې نومونې لپاره ټاکل شوی او دغه نومونې پرې پېژندل کېږي.

**Corresponding Author*:
Email: atta.muhammadi[at]gmail.com (*A. Muhammadi*)

https://doi.org/10.55559/smjppe.v2i2.288

© 2024 The Authors. Published by Sprin Publisher, India. This is an open access article published under the CC-BY license
https://creativecommons.org/licenses/by/4.0

## سریزه

تصوف او عرفان د پښتو ادب ډېر پرتمین ډګر دی او د پښتو منظوم او منثور ادب پرې ښایسته دی، الله پاک جل جلاله، چې انسان پیدا کړی دی، د خپلې بنده ګی له پاره یې پیدا کړی او هم یې د خپل ځان خلیفه کړی دی، دا بنده ګي او خلیفه توب خدای جل جلاله تر ټولو ښه، سم او منلی هغه وخت ګرځي، چې د زړه اصلاح شوې وي، څکه د نبي علیه الصلاة والسلام قول دی، چې د انسان په بدن کې یوه ټوټه ده، که هغه سمه وه، ټول بدن یا جسد به سم وي او که هغه خرابه شوه، نو ټول بدن به خراب شي، بیا فرمایي: خبردار! هغه زړه دی. نو د زړه سم والی، پاکوالی او هر ډول سمون یو باطني فعالیت دی او د تصوف و عرفان کار همدا باطني اصلاح ده.

په دې څېړنه کې اول تصوفي اصطلاحات په مردف ډول راوړل شوي دي، ورپسې یې فونیټیکي شکل لیکل شوی دی، په دریم قدم کې لغوي مانا راغلې ده، بیا یې اصطلاحي، تصوفي او عرفاني تعریف راوړل شوی دی، په پنځم قدم کې، د وخت ضرب اثر څخه شعري نمونه/ نمونې راوړل شوي دي، چې د یاده تصوفي اصطلاح پکې راغلې ده.

## موخې

هره څېړنه د یوې یا څو موخو د لاس ته راوړلو له پاره ترسره کېږي، د دې څېړنې موخې په لنډ ډول لاندې راوړلی کېږي:

1. تصوف او عرفان پېژندل.
2. د تصوف او عرفان توپیر په ګوته کول.
3. د معاصرو ادبیاتو د یوه اثر د تصوفي اصطلاحاتو شنل.

## د څېړنې میتودولوژي

په دې څېړنه کې له (۹) معتبرو آثارو او (۸) معتبرو قاموسونو څخه ګټه اخیستل شوې ده، هر ځای چې له کوم ماخذ څخه استفاده شوې ده، د متن څېړنې د اصولو سره سم یې پر خپل ځای یادونه شوې ده، که په لنډ ډول ووایو د دې څېړنې د موخو د لاس ته راوړلو له پاره، د څېړنې د کتابتوني ډول او تشریحي مېتود څخه استفاده شوې ده.

## د څېړنې ستونزې

د عرفاني ادبیاتو په مضمون کې د معاصرو لیکوالانو د تصوفي نومونو نشتوالی، د دې موضوع اړوند د ماخذونو نه موجودیت او د یوې تصوفي اصطلاح په بېلابېلو ځایونو کې کارېدنه درې هغه ستونزې دي، چې له امله یې دا څېړنه تر سره شوې ده.

## د څېړنې پوښتنې

### اصلي پوښتنې

اصطلاحات څه شي ته ویل کېږي؟

په وخت ضرب اثر کې د تصوف او عرفان کوم ډول اصطلاحات راغلي دي؟

### فرعي پوښتنې

د ښاغلي عطایي ملا په کلام کې تصوفي نومونې لږ دي او که ډېرې؟

ښاغلی عطایي ملا له تصوف سره اړیکې لري او که یې نه لري؟

## د موضوع د انتخاب لاملونه

1. موضوع نوې او تازه ده، تر اوسه پورې نه وه څېړله شوې.
2. د محصلانو او ځینو استادانو په ذهنونو کې د (د وخت ضرب) اثر د تصوف او عرفان برخه لا ینحله وه.
3. د یوې ستونزې ځواب پیدا کول.

## تېرو آثارو ته کتنه

تصوف او عرفان د اسلام د سپېڅلي دین تر مخه په نورو دینونو کې په بېلابېلو نومونو او معناوو موجود وو او یادونه یې د قبل المېلاد څخه مخکې په ځینو آثارو کې شوې ده؛ دا چې زموږ موضوع اسلامي تصوف دی. د دې تصوف پیل د راجح قول پر بنسټ د دویمې هجري پېړۍ په سر (۱۱۰هـ) کې او سرچینه یې د حسن بصري رضي الله تعالی عنه څخه را پیلیږي. ښاغلی بصري د (رعایة حقوق الله) په نامه یو کتاب لیکلی، چې د تصوف لومړنی کتاب ګڼل کېږي. په دې اړه نیکولسن (Nikolson) وایي: لومړنی مسلمان، چې د صوفیانو له پاره یې کتاب لیکلی دی، حسن بصري دی.

د تصوف اصطلاح چې په (۱۱۰ هـ) کې باب شوې ده، د تاریخي اسنادو پر بناء، دا اصطلاح په (۱۹۹ هـ ق) کې یو اسلامي نوم شو او په پنځوسو کلونو کې یې د بین الاسلامي اصطلاح ځای ونیو، یعني په لومړۍ پېړۍ کې د احسان او زهد په نومو یادېدو او لږ وروسته د تصوف نوم ورباندې کښېښودل شو. دا چې تصوف او عرفان په پښتو ادب کې خورا لوی پرتمین مقام لري او په بېلابېلو وختونو کې، بېلابېلو علماؤ آثار پکې لیکلي دي، چې په لاندې ډول یې په لنډه توګه یادونه کوو:

**۱- پښتو عرفاني ادب ته لنډه کتنه**

د دې اثر لیکوال ښاغلی پوهیالی اورنګزېب اسحاقزی دی، دا اثر په (۱۳۹۰ل.) کال مومند خپرندویه ټولنې د (۱۰۰۰) ټوکونو په تېراژ په (۱۱۱) مخونو کې چاپ کړی.

په دې اثر کې ښاغلي لیکوال پر عرفان، عرفاني ادبیاتو، تصوف، تصوف د اشتقاق له پلوه، تصوف په اصطلاح کې، صوفي

او په پښتو ادب کې پر عرفاني اصطلاحاتو باندې په ۱۱۴ مخونو کې بحث کړی دی.

**۲- د بایزید روښان عرفاني – ادبي ښوونځی**

د دې اثر لیکوال ښاغلی پوهندوی فضل ولي ناګار دی، دا اثر په (۱۳۹٤ ل.) کال، ناګار خپرندویه ټولنې د (۲۰۰۰) ټوکونو په تېراژ په (۱۸٦) مخونو کې چاپ کړی دی.

په دې اثر کې ښاغلی لیکوال د روښاني طریقت پر مقامونو، وحدت الوجود، د طریقت پر خلفاؤ، آثارو او پښتو ادب ته د روښاني عرفاني ښوونځي بخښنو باندې، په (۱۷۵) مخونو کې غږېدلی دی.

**۳- عرفان او د پښتو ادب په لرغوني دوره کې یې څرکونه**

د دې اثر لیکوال ښاغلی پوهندوی فضل ولي ناګار دی، دا اثر په (۱۳۹٤ ل) کال، ناګار خپرندویه ټولنې د (۲۰۰۰) ټوکونو په تېراژ په (۱۲٦) مخونو کې چاپ کړی.

په دې اثر کې ښاغلی لیکوال پر عرفان، د عرفان پر هدف، د عرفاني ادبیاتو پر پیدایښت، تصوف، الصوف، الصفو، الصفا، التصوف، الصفة، الصوف، الصوفانه، تصوف د پوهانو په نظر کې او پر ځینو عرفاني نومونو باندې په (۱۱۹) مخونو کې غږېدلی دی.

**٤- د حمزه بابا عرفان او غزل**

د دې اثر لیکوال ښاغلی پوهنوال فضل ولي ناګار دی، دا اثر په (۱۳۹۵ ل) کال، ناګار خپرندویه ټولنې د (۱۱۰۰) ټوکونو په تېراژ په (۲۰٦) مخونو کې چاپ کړی.

په دې اثر کې ښاغلی لیکوال د تصوف پر پېژندنه، په اسلام کې د صوفي د تسمیې وجه، په پښتو شعر کې د تصوف څرکونه، حمزه او تصوف، او پر عرفاني نومونو باندې په (۱۹۵) مخونو کې غږېدلی دی.

**۵- د تصوف حقیقت او د نقشبندیه طریقې یو بحث**

د دې اثر لیکوال ښاغلی امین علاء الدین نقشبندي دی، دري ژباړه یې بهاوالدین بهاء او پښتو ژباړه یې ښاغلي پوهاند محمد بشیر دودیال په (۲۳٦) مخونو کې کړې ده، دا اثر په (۱۳۸۹ ل.) کال میوند خپرندویه ټولنې د (۱۰۰۰) ټوکونو په تېراژ چاپ کړی.

په دې اثر کې ښاغلی لیکوال د تصوف پر حقیقت، د تصوف اصطلاح، د اسلام شریعت او اسلامي تصوف، پر تصوف او د هغه پر موضوعاتو د اعتراضاتو رد باندې، په (۲۳۳) مخونو کې غږېدلی دی.

**٦- تصوف او ادب**

لیکوال یې ښاغلی اجمل ښکلی دی، دا اثر په (۱۳۹٤ل.) کال مومند خپرندویه ټولنې د (۲۰۰۰) ټوکونو په تېراژ په (۱۵۱) مخونو کې چاپ کړی.

په دې اثر کې ښاغلی لیکوال پر تصوف څه ته وایي، پر وییزې او اصطلاحي معنی، ارزښت، تصوف او ادب، د پښتو د تصوفي ادب تاریخ او د هغه پر دورو باندې، په (۱٤۸) مخونو کې غږېدلی دی.

**۷- تصوف او اسلام**

د ښاغلي قاضي فضل غني کامه وال اثر دی، په (۱۳۷۸ ل) کال د (۱۰۰۰) ټوکونو په تېراژ په (۱۸۸) مخونو کې چاپ شوی دی.

په دې اثر کې ښاغلی لیکوال پر تصوف، مشهورو صوفیانو، د تصوف مدرسې، طریقې، د باطني علومو ثبوت، اولیاء، تزکیه، کرامات، طریقه، مقام، حال او نورو موضوعاتو باندې، په (۱۸۵) مخونو کې قلم چلولی دی.

**۸- د کندهار او کابل تاریخي مسجدونه**

د ښاغلي محمد ولي ځلمی اثر دی، صحاف نشراتي مؤسسې په (۱۳۷۵ ل) کال د (۱۰۰۰) ټوکونو په تېراژ په (۱٦۵) مخونو کې چاپ کړی.

په دې اثر کې ښاغلی لیکوال د تصوف او عرفان پر ځینو مهمو طریقو او اصطلاحاتو او نورو باندې په (۱٦۱) مخونو کې غږېدلی دی.

**۹- د تصوف مسائل**

د دې اثر لیکوال ښاغلی مولوي امیرمحمد طیب دی او د چاپ چارې یې صداقت خپرندویه ټولنې، په (۱۳۹۰ ل) کال د (۱۰۰۰) ټوکونو په تېراژ په (۱۳٤) مخونو کې ترسره کړې دي.

په دې اثر کې ښاغلی لیکوال د شریعت او طریقت پر حقیت، شریعت او حقیقت یو دي، د ولایت پر اثبات، د ولي تعریف، د تقوی مراتب او درجات، کرامات د اولیاؤ حق دي، د تصوف پر ځینو اصطلاحاتو، د خپل پیر شېخ سره د زړه ربط، کامل پیر، د زړونو د روښانه ساتلو طریقه، مجذوب او قلندر، د قرب (نزدېوالی) اصل جذب الهي او د نفس رزائل د قرب له پاره مانع دي او نورو باندې په (۱۳٤) مخونو کې غږېدلی دی.

**۱۰- د کندهار مشاهیر**

د ښاغلي محمد ولي ځلمی اثر دی، د کندهار اطلاعاتو او کلتور ریاست په (۱۳۹۰ ل) کال د (۱۰۰۰) ټوکونو په تېراژ په (٤۱٦) مخونو کې چاپ کړی دی.

په دې اثر کې شاغلي ليکوال د تصوف څه شی دی؟ د تصوف پخوانۍ ريښې، د تصوف ضرورت، ايا تصوف مادي ريښې لري؟ او پر زيارتونو او مشاهيرو په (٤١٦) مخونو کې غږېدلی دی.

**١١- لغوي څېړنه**

د علامه اکاډيميسن پوهاند عبدالشکور رشاد اثر دی، په

د **آدم** ژبه خو مينه پوه په خوند د هجر او وصل دا جنت دوږخ لا څۀ دي؟ لږ خو پوی مي کړه دلبره! زما سجده خاوري کېدۀ دي، ستا معراج ځانته کاتۀ دي (مست تقدير د ګناهونو، شيخ تدبير دی بې هنره) (ملا، ۲۰۱۵م. ۳۶ مخ)

(۱۳۸۷ل.) علامه رشاد اکاډيمی د (۱۰۰۰) ټوکونو په تهراژ په (٤٠٠) مخونو کې چاپ کړی دی.

په دې اثر کې شاغلي ليکوال د بېلابېلو لغاتونو پر معناوو غږېدلی دی او د دې څېړنې سره يې تړاو د خيراليبان په لغتونو او ځينو نورو تصوفي نومونو او اصطلاحاتو کې دی.

## د تصوف پېژندنه

تصوف په لغت کې د صفا (سپېڅلتيا) د لفظ څخه اخيستل شوی دی، په اصطلاح کې (التصوف تجريدالقلب لله تعالی و احتقار ماسواه). خپل زړه له هر څه څخه خالي کول، يوازې يوه الله عزوجل ته په زړه کې ځای ورکول او نور هر څه خوار ګڼل تصوف دی.(القادري، ۱۳۹۱ل. ۱ – ۲مخ)

## د عرفان پېژندنه

د عرفان کلمه (د عين په زبر سره) په عربي ژبه کې د پېژندنې معنا ورکوي، عرفان د هغې پوهې او علم نوم دی چې د الله تعالی جل جلاله د ذات او صفاتو د مبارکو نومونو د ذکر د اغېزو سره د اسلام د شريعت پابندي د زړه، فکر او عمل د سپېڅلتيا او تزکيې له اغېزې د مسلمان روحي سير د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ د رحمت او د انوارو د پلوشو پر لوري بشپړتيا، نژدېوالي او (قُرب) ته ورسېږي. هغه لاره چې اهل الله وو د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ د پېژندنې او قُرب (نژدېوالي) لپاره خوښه کړې ده عرفان بلل کېږي. (ايوبي، ١٤٣٤هـ. ٣٩)

د تصوف په باب مشهور ختيځ پېژندونکی (لوی ماسينون) په اسلامي دايرة المعارف کې ليکي: (د صوفي کليمه په دريمه هجري پېړۍ کې مشهوره شوه، خو ابن خلدون په خپله مشهوره مقدمه کې د تصوف د کليمې زېږنده او يا شهرت دويمه هجري پېړۍ ګڼي. صوفي عربي کلمه او له صوف يعنې وړۍ څخه اخيستل شوې او تصوف د تفعل له مصدره د وړۍ اغوستلو په مانا دی.

## د تصوف او عرفان توپير

د تصوف او عرفان اساسي توپير دا دی، چې عرفان تيوري ده او تصوف د دې تيورۍ عملي کول دي، دويم توپير يې دا دی، چې صوفيان ځانونه د ټولنې تر نورو وګړو لوړ بولي، خو عارفان ځانونه د ټولنې تر ټول عاجزه کسان بولي، بل توپير يې دا دی، چې صوفيان د ځينو پوهانو په آند تر عارفانو لوړ دي، خو ځيني پوهان بيا عارفان تر صوفيانو لوړ بولي.

## اصلي موضوع

### آب āb

لغوي معنی يې اوبه دي، د قدماؤ په آند، د څلورو عنصرو ( آب (اوبه)، آتش (اور)، باد (هوا)، خاک (خاوره) څخه يو عنصر دی.(ګوهرين، ۱۳۷٦. ۱۲۷مخ)

۱. د مېوې جوس، ۲. هر هغه شی، چې د اوبو سره مشابه يي، لکه. ادرار، عرق، مني او قطره. (فرهنګ عميد، ۱۳۸۱ل. ۱مخ)

۱) د يهودو د ملي کال يوولسمه مياشت، ۲) د عرفي يا عام کال پنځمه مياشت، يهود دا د عزا او ماتم مياشت بولي او په دې ورځ روژه نيسي، ۳) د سرياني معروف کال يوولسمه مياشت ده، د عربي کال د اسد سره او د مېلادي کال د اګسټ سره برابره ده. (فرهنګ دهخدا، ۱۳۱۹ل.)

د صوفيانو په اصطلاح : معرفت ا و فېض ته ويل کېږي
او کله – کله د الهي فيض او غيبي مرستې په معنی، چې دا يمي نه بلکې عارضي وي هم کار شوې ده.
کله – کله د روحاني حقيقت په معنی راغلې، چې عبث او بېهوده کول يې د سالک د روحاني او معنوي باطني چېنې د وچېدو او ذوق د له منځه تګ لامل کېږي.

"لا وارث دولت د حُسن" د سپېرو خاورو يو موتی "شش محل د ولايت" ؤ، اوس د کلي هديره سوه چرته حوري جنتونه؟ چرته سرې سترګې جامونه؟ ملا نۀ يم قلندر يم، زما دغه **آب** او دانه سوه (ملا،۲۰۱۵م.۲۸مخ)

### آدم ādam

د اول توري په مد او د دويم په زور تلفظيږي، واحد مذکر اسم دی، آدميان او آوادم يې جمع ده، په لغت کې د انسانانو پلار، پر انساني جسم اطلاق کېدونکې کليمه (الماني عربي – فارسي)، د

ټول بشر پلار ته ویل کېږي، چې خدای جل جلاله ټول مخلوقات د هغه د جسم څخه پیدا کړي دي. (ګوهرین، ۱۳۷۶. ۱۴۲ – ۱۴۵مخونه)

په تصوف کې: د آدم علیه السلام څخه یوازې د ټول بشر پلار مراد نه دی، بلکې هدف یې ټول بشریت، انسان او انساني حقیقت دی. (ګوهرین، ۱۳۷۶. ۱۴۲ – ۱۴۵مخونه)

شیخه ستا د عذاب دروند بڼ، د رندانو په محله کې نړوي جنتي خوني، ورکوي د دُعا لاري یو خوا حُسن، بل خوا مینه، ربه! ستا **آدم** مظلوم دی په دې خته کې لړ اور دی، ورشیي د ګناه لاري (ملا، ۲۰۱۵م. ۱۲مخ)

**āh آه**

آهونه یې جمع ده، په لغت کې اسویلي، اوسیلي، اوه، اوف او حسرت ته ویل کېږي، په اصطلاح کې د افسوس کلیمه ده، چې د افسوس په حال کې ویل کېږي.

په تصوف او عرفان کې: د عشق د کمال هغه نخښه ده چې له بیان څخه یې ژبه او قلم قاصر وي. (قادري، ۱۳۹۳هـ. ق. ۷۳مخ)

پرهر پت ساته زړګیه! چې مي روح لا خبر نه سي
عشق مقام د خود داري دی، دلته **آه** هم رسوایي ده
ستا د حُسن له غروره، زما د مینې له غیرته
د پښتون تقدیر نصیب مو، په وصال کې جدایي ده
(ملا، ۲۰۱۵م. ۳۳ – ۳۴ مخونه)

**abád ابد**

د اول او دویم توري په زرو تلفظیږي، په لغت کې تل، مدام، همېشه، تل تر تله، تر ابده او د ابد له پاره ته ویل کېږي، په اصطلاح کې داسې وخت یا راتلونکې زماني ته ویل کېږي، چې انتهاء یا پای نه لري. (پښتو – پښتو تشریحي قاموس، ۱۳۸۳ل. ۹مخ)

په تصوف او عرفان کې: د خدای جل جلاله د نومونو څخه هغه نوم دی، چې پای یا انتهاء نه لري او صفت یې ابدیت دی. (الکاشاني، ۱٤۱۳هـ. ٤۷مخ)

هومره سوز د آدم خولهٔ کې، څومره اور یې دی په زړهٔ کې
دا په اور پخ سوې خته، که په خته کې اوروونه؟
په کوم جرم اسیر سوی، زما ازل ستا په **ابد** کې
دا د مینې بغاوت ؤ؟، که د عقل څنځیرونه؟
(ملا،۲۰۱۵م. ۹۱مخ)

**azál ازل**

د اول او دویم توري په زور تلفظیږي، ازلونه یې جمع ده، په لغت کې بې مبداء هستی، هغه زمان چې پیل یې نه دی معلوم، ابتدا، لومړی ورځ او د ابد ضد ته ویل کېږي، په اصطلاح کې د ماضي همېشه والي ته ویل کېږي، چې حد یې نه وي معلوم. (پښتو – پښتو تشریحي قاموس، ۱۳۸۳ل. ٤۸ مخ)

په تصوف او عرفان کې له ازل څخه مراد هغه معقوله قبلیه ده، چې د الله تعالی جل جلاله یو ذاتي حکم دی، هغه د خپل کمال له وجېد هغه مستحق دی، دا ازل په اصل کې ازل الازال دی، په دې کې د غېر هیڅ استحقاقنشته، نه په حکمي توګه، نه په غیبي توګه او نه په اعتباري توګه، د هغه ازل اوس همداسېموجود دی، څنګه چې زموږ تر وجود مخکې موجود وو، هغه په خپل ازلیت کې نه متغیر کېږي. (الکاشاني، ۱٤۱۳هـ. ۳۷مخ)

مستي د حُسن د پیمانه د میني
راج د حَسینو د نذرانه د میني
**ازل** چې واخسته وعده د وفا
ابد ته ولاړه هنګامه د میني
**(ملا، ۲۰۱۵م. ۹۷ مخ)**

**asár اثر**

د اول او دویم توري په زور تلفظیږي، اثرات، آثار یې جمع ده، په لغت کې علامې، کرښې، نخښې، نښکې، لیکنې، رسالې، کتاب او ګڼې ته ویل کېږي، په اصطلاح کې تاثیر او اغېز ته ویل کېږي.

په تصوف او عرفان کې د اسماء او صفاتو د جمال او کمال مظاهرو ته ویل کېږي، لکه: معلومات د علیم د اسم او مرحومات د رحمت د صفت آثار دي.(ګوهرین، ۱۳۷۶. ۲۱۰مخ)

ساقي څه قیامت به پاخي؟ د کتلو له نظره
غر چپه، قاصد بېخوده د دیدن له تش خبره
ساقي ستړی په طواف سو خُم لا رنګ نه دی راوړی
کوم یو مست په خود راغلی، رنګ یې تښتي له **اثره**
(ملا، ۲۰۱۵م. ۳۵ مخ)

**Isbát اثبات**

د اول توري په زبر او دریم توریه زور تلفظیږي، واحده نارینه کلیمه ده، په لغت کې سپیناوي، ثابتولو، سرته رسولو، یو شی په چا منلو، دلیل راوړلو، د دلائلو پیداکولو، زیاتولو او سرته رسولو ته ویل کېږي، په اصطلاح کې د حقیقت یا واقعیت د څرګندولو له پاره د دلایلو راوړلو ته اثبات ویل کېږي.

په تصوف او عرفان کې: د حق تعالی جل جلاله ظهور او د خلق مخفي کېدلو ته اثبات ویل کیږي. (گوهرین، ۱۳۷۶. ۱۹۷ـــ۲۰۱مخونه)

هره نفي ئـــې **اثبات** ده
هر اثبات یې حیراني ده
هنگامــه د چا د حُسن
کـــه د میني طالبي ده
(ملا، ۲۰۱۵م. ۱۳۳ مخ)

**اخلاص Ixlās**

اخلاصونه یې جمع ده، د اول توري په زبر په لغت کې د زړه له کومې، ښه نیت، صفایي، صداقت، میني، محبت، بې غرضه دوستۍ او د زړه څخه د یو کار کولو ته ویل کیږي، په اصطلاح کې په یوه کار کې یا د یو چا سره د زړه له کومي مرسته کولو ته اخلاص ویل کیږي.

په تصوف او عرفان کې یوازې او یوازې د خدای جل جلاله له پاره بې له کومې بدلې یا معاوضې د یوه کار سرته رسولو ته اخلاص ویل کیږي. (وگورئ،گوهرین، ۱۳۷۶. ۲۱۹مخ)

تل دي دا گلـــونـــه وي
څه که زما ویني څـــــکي
تل دي دا کـــــلونه وي
څه که خوري عمرونه زما
رنگ دي د **اخلاص** په رنگ، د عشق په ننگو نه دي یوه
ځار شه تري ارمـــان زما
دا ښایسته گـــلان زمـــا
دا خانان خـــــانان زما
(ملا، ۲۰۱۵م. ۱۱۹ مخ)

رب خو مینه ده احساس دی
پـــه اســـرو کلـــــه خپلیږي
لمونځ حضور دی او **اخلاص** دی
پـه دُرو کـــــله زده کیـــږي
ثـــواب لــــــــڅ سو گناه پټه
د ایــمان کډي بــــــاریږي
(ملا، ۲۰۱۵م. ۱۳۰ مخ)

**پیاله pyālá**

پیالې یې جمع ده، په لغت کې کوچني گیلاس او پیمانې ته ویل کیږي، په اصطلاح کې د چایو څښلو هغه لوښی دی، چې د لاس نیولو ځای ولري.

په تصوفي او عرفاني اصطلاح، د سالک زړه ته ویل کیږي، چې په هغه کې د معرفت شراب ځلیږي او خلگ ځان ته راکشوي. او هم د محبوب سترگو ته ویل کیږي، چې په هغو کې خپله هم مستي وي او هم د نورو د مستولو او بې خوده کولو قوت لري، د موجوداتو د ذراتو هرې-هرې ذرې ته د معرفت د شرابو په ورڅښلو سره هغه پر مستۍ او بې خودۍ راولي، نو دې ته په کتو سره هره ذره پیاله ده او د سالک زړه ته هم له همدې امله پیاله ویل کیږي، چې په هغه کې د معرفت شراب ځلیږي او خلک ځان ته راکشوي. (قادري، ۱۳۹۳هـ.ش. ۹٤مخ)

توبې! مره لور دې پیدا سه، زهده غبرگ ځامن دې ومره هلته وار د **پیالې** تېر سو، دلته پاته لا ځواني ده په دوږخ د بېلتانه کې، ما ستا رنگ ساتئ په زړۀ کې گله! وینه دې ترخه سوه، د زقومو آبیاري ده (ملا،۲۰۱۵م. ۱۵ مخ)

**تقوی taqwá**

تقواوې او تقواگاني یې جمع ده، په لغت کې پرهېزگاری، له خدایه بېرېدنې او له گناهونو ځان ژغورنې ته ویل کیږي، په اصطلاح کې له بدو څخه ځان ساتنې او پرهېزکوونې ته ویل کیږي. (پښتو – پښتو تشریحي قاموس، ۱۳۸۳ل. ۷۰۷مخ)

إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَواْ وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ۱۲۸ ژباړه: په تحقیق سره الله تعالی جل جلاله له پرهېزگارانو او نېکانو سره دی. النحل سورت، ۱۲۸ آیت. (په پښتو ژبه د قرآن کریم د معانیو ژباړه او تفسیر، ۸٤٦مخ) ([1])

په تصوف او عرفان کې له هر هغه څه څخه نفرت او بېزارۍ ته ویل کیږي چې په زړه کې متعین یا په وصول الی الله کې مانع وي. (قادري، ۱۳۹۳ل. ۱۰۵مخ)

په عملي حکمت کې د عبادت او پرهېزگارۍ په واسطه د ناروإ د عقوبت څخه ځان ساتنې ته ویل کیږي، په داسې ډول چې د حق ښبگنه خپل ساتندوی وگڼي او ټول کمالات او فضائل خدای جل جلاله ته وسپاري.

چې د زلفو په زندۍ یې، نړول د **تقوی** غرونه
نن یې شونډې هم ترخې سوې، نن یې پاک د توري زنگ سو
د ناپوه واعظ عِتاب وو، چې مستي مو بدمستي سوه
د رباب د غوږ له تاوه، پورته څه جانسوزه ترنگ سو
(ملا،۲۰۱۵م. ٦٥ – ٦٦ مخونه)

[1]: په افغانستان کې یې کابلي تفسیر بولي.

د حالاتو د اختلاف له اعتبار څخه د تقوی په کېفیاتو کې هم تفاوت دی او په لاندې ډول سره ده: د عوامو تقوی: د کفر او شرک پرېښوولو ته ویل کېږي. (قادري، ۱۳۹۳ل. ۱۰۵مخ)

د متقیانو تقوی: د معاصیو پرېښوول او له منهیات شرعیه څخه پرهېز ته ویل کېږي. (قادري، ۱۳۹۳ل. ۱۰٦مخ)

د خواصو تقوی: په عباداتو او ریاضاتو کې د وسوسو قلع او قمع کولو ته تقوی ویل کېږي. (قادري، ۱۳۹۳ل. ۱۰٦مخ)

## توری، حرف harf

جمع یې حروف او حرفونه دي، لغوي معنی یې توری، تورکی، فونیم، کلیمه او هغه توری چې نه اسم وي، نه فعل او په مستقله توګه مانا ور نه کړي حرف بلل کېږي، په اصطلاح کې د الفبې هر توري ته حرف ویل کېږي. (پښتو – پښتو تشریحي قاموس، ۱۳۸۳ل. ۱۱۱۵مخ)

په تصوف او عرفان کې: هغه لغت یا عبارت ته ویل کېږي، چې په هغه سره الله تعالی جل جلاله له بنده سره خطاب کوي. (قادري، ۱۳۹۳ل. ۱۲۲ مخ)

شیخ یې ښاري د پله نببي، ما یې کور لیدلی دی
دهٔ کتلي د عشق **توري**، ما یې زورلیدلی دی
دا اوږده قصه د زلفو، دا لنډې دعوه د زهده
دهٔ یې تار لیدلی نه دی ما یې تور لیدلی دی
(ملا،۲۰۱۵م. ۳۱ مخ)

## جام jām

جامونه یې جمع ده، په لغت کې کټوري، پیالې، کاسې ته ورته لوښي، په غور کې د یوه تاریخي ځای نامه، ګیلاس، کنډول او پیمانې ته ویل کېږي، په اصطلاح کې د ګیلاس په ډول یو لوښی دی چې خاص خلک ښیښل پکښکوي.

په تصوف او عرفان کې: د عارف باطن، جامعه حقیقت، مستي پیدا کوونکي شی او د حال مستی ته جام ویل کېږي. (قادري، ۱۳۹۳هـ.ل. ۱۱۲مخ) همدا ډول د صوفي زړه او عالم ته جام ویل کېږي.

د سر مست حُسن لمنه، د بدمسته سر خوبونه
ها چې هر **جام** دوه منی ؤ، په خمونو پیمانه شپې
څنګه ورکه سوې په شپو کې، څنګه ډوبه سوې تیارو کې
د زمان د هار زینته! د یادونو دُردانه شپې!
(ملا،۲۰۱۵م. ۵ مخ)

"لا وارث دولت د حُسن" د سپېرو خاورو یو موټی
"شش محل د ولایت" ؤ، اوس د کلي هدیره سوه
چرته حوري جنتونه؟ چرته سرې سترګې **جامونه؟**
ملا نهٔ یم قلندر یم، زما دغه آب او دانه سوه
(ملا،۲۰۱۵م. ۲۸ مخ)

## جور او جفا jawr aw jafā́

اوله کلیمه (جور) یې د اول توري په زور او دویم او دریم په سکون، دویمه کلیمه (جفا) یې د اول او دویم توري په زور تلفظیږي، جورونه، جفاوې او جفاګانې یې جمع حالتونه دي، په لغت کې زور، زیاتي، ظلم، جبر، ستم، څور، او سخت زړه توب ته ویل کېږي، په اصطلاح کې بې وفایي او ډېر ظلم ته ویل کېږي. (پښتو - پښتو تشریحي قاموس، ۱۳۸۳ل. ۹۱۰مخ)

په تصوف او عرفان کې: د سالک زړه محجوبولو، یعني په پرده کې ساتلو او له عروجي سېر څخه مخ نیولو ته ویل کېږي. (قادري، ۱۳۹۳ل. ۱۱۵مخ)

اوربدې ګولۍ د سترګو، بلېدې لمبې د شونډو
ځوانۍ! ستا په عشق آباد کې، څومره ښکلی عافیت ؤ
بېګا بیا شپه زر کلنه، بستر بیا اغزي کرله
ګیلې بیا وې په سلګیو، ستا له **جوره** شیکایت ؤ
(ملا،۲۰۱۵م. ۵٦ مخ)

## حیرت hayrát

د اول توري په زور، په لغت کې، سرګرځېدلو، حیرانېدلو، سرګرداني او د تعجب له امله پر یوه حال پاته کېدلو ته ویل کېږي.

په تصوف او عرفان کې: د یوه مقام نوم دی او هغه نابره کار دی، چې صوفي او عارف هغه ته د تامل، حضور او تفکر په وخت کې چې پر زړه واردېږي علاقه لري. (قادري، ۱۳۹۳ل. ۱۲۸مخ)

په سلوک کې د حقیقت پر انکشاف حېرانېدلو ته حیرت ویل کېږي او یا د سلوک د مراحلو څخه هغه مرحله ده، چې سالک پکې سرګردان یا حیران شي. (قادري، ۱۳۹۳ل. ۱۲۸مخ)

د وحدت خیالي محل کې
د **حیرت** آئینه سوه ماته
د کثرت د ځنځیر شرنګ دی
جوړې کړي یې نغمې دي
(ملا، ۲۰۱۵م. ۹۹مخ)

**دلبر dılbar**

دلبران یې جمع ده، مفرد مذکر اسم دی، د اول توري په زبر په لغت کې زړه وړونکي، ښکلي، معشوق، محبوب او مطلوب ته ویل کېږي، په اصطلاح کې هغه کس دی، چې بل څوک په خپل ښایست کې راګیر کړي او هغه خپل زړه پر بایلي.

په تصوفي او عرفاني اصطلاح: د خالقي صفت اظهاروونکی، چې په اندازه او مشقت کې غورځوونکي نتایج څنې پیدا کېږي دلبر بلل کېږي. (قادري، ۱۳۹۳هـ.ل. ۱۴۶مخ)

کاشکې ژوند مي توره شپه سي، او یار ورکه کړي د شپې لار
کاشکې بخت مي سپین سحر سي، او ورک راولي پر دې لار
زړه مي لاس کې را اخیستی، د لیلام لیلام نارې کړم
مونده نهٔ سي په درست ملک کې، د **دلبرو** د کوڅې لار
(ملا،۲۰۱۵م. ۱۷مخ)

**رند rind**

د اول توري په زبر او د دویم و دریېم په سکون تلفظیږي، رندان یې جمع ده، په لغت کې ځیرک، چالاک، تېز، بې پروا او تکړه ته ویل کېږي، په اصطلاح کې هغه کس ته ویل کېږي، چې د یوه کار په کولو کې بې پروا وي.

په سلوکو کې: هغه چا ته ویل کېږي، چې په طاعت کې له اعمالو څخه قطع نظر کوي یا رموز او حقایق بې پرده او برملا بیانوي. (قادري، ۱۳۹۳ل. ۱۶۱مخ)

شیخه ستا د عذاب دروند برغ، د **رندانو** په محله کې
نړوي جنتي خوني، ورکوي د دُعا لاري
یو خوا حسن، بل خوا مینه، ربه! ستا آدم مظلوم دی
په دې خته کې لږ اور دی، ورښیي د ګناه لاري
(ملا،۲۰۱۵م. ۱۲مخ)

**روح ruħ**

روحونه، ارواح او ارواحګانې یې جَمعي دي، د اول توري په پېښ او د دویم او دریېم په سکون تلفظیږي، د جسم یا مادي ضد، زړه، حیاتي اساس، ژوند، شراب، روان، نیت او ساه ته ویل کېږي، د الهي فیلسوفانو د عقیدې پر بنسټ، د ژوند منشاء ده، په اصطلاح کې په ژوندیو موجوداتو کې حیاتي اساس یا اصل او د تحرک قوه بلل کېږي. (پښتو - پښتو تشریحي قاموس، ۱۳۸۳ل. ۱۵۱۴مخ)

په سلوکو کې: داسې څه ته وایي، چې د هغه په راتلو سره جسم ژوندی کېږي او په وتلو سره یې جسم ته مرګ راځي، د حیات د حرکت نیژدې سبب همدا روح دی او په هر شي کې روح جاري دی.

مرثیه د بېلتون ژاړي، **روح** له تنه په واته دئ
پام تر پښو یې لاندي نه کړئ، په دې خاځکو کې یو زړهٔ دئ
امید سپین کفن اغوستی، عرفات ته د دیدن ځي
وفا سر په سجده ایښی، دا زیارت د ګران د پله دئ
(ملا،۲۰۱۵م. ۵۳مخ)

**زهد zuħd**

د اول توري په پېښ او دویم او دریېم په سکون تلفظیږي، په لغت کې، تقوا، مناتوب، پرهېزګاري، پرهېز، نړۍ ته د بې اعتنایی په سترګه کتلو ته وایي. د عشره مقاماتو دریېم مقام دی، مخکې یې ورع او ورپسې د صبر مقام دی.

په سلوک کې: له ګناه او هر هغه شي څخه چې تر حاجت زیات وي، ځان ساتلو او بې ځایه غوښتنو پرېښودلو ته زهد ویل کېږي. د ځینو صوفیانو په آند له دنیا څخه د لرې کېدو بل نوم زهد دی.

شیخ یې خاري د پلهٔ نبې، ما یې کور لیدلی دی
ده کتلي د عشق توري، ما یې زور لیدلی دی
دا اورده قصه د زلفو دا لنډی دعوه د **زهد**
دهٔ یې تار لیدلی نهٔ دی، ما یې کور لیدلی دی
(ملا،۲۰۱۵م. ۳۱مخ)

لږ مي اې د حساب سیوري! د کتاب له پاڼو پاڅه
لږ مي اې د ښایست لمره! دا ړنده توبه ړونده کړه
لږ مي اې ګنهکار حُسنه! و خپل څنګ ته در نژدې کړه
لږ مي اې ریاکار **زهده**! د باغي ذهن پرده کړه
(ملا،۲۰۱۵م. ٤مخ)

**ساقي saq̄í**

د اول توري په زور او د دریېم په زبر تلفظیږي، ساقیان یې جمع ده، په لغت کې اوبه وېشونکي، اوبه ورکوونکي، هغه څوک چې په مجلس کې می یا شراب وېشي، آبي، په بل شراب څښوونکي ته ویل کېږي، په اصطلاح کې هغه څوک دی، چې اوبه خلکو ته ورکوي.

د عارفانو په آند: د الهي محبت شراب ورکوونکی، د الهي اسرارو ساغر په زړونو کې تویونکی، کشفي رموز، حقایق او معارف بیانوونکی، زړونو ته د توحید نغمه اوروونکی او د ساقي په نامه یادېږي. (سعیدي، ۱۳۸۷هـ.ل. ۳۵۵مخ)

**ساقي!** واخله پياله واخله! نور دي خم راندرانه کړه
زما تنده د عمرونو، يو درياب را پيمانه کړه
د مکار زاهد پر قبر، بد مستان سره ټول سوي
انتقام له ژونده اخلي، هديره يې ميخانه کړه
(ملا،۲۰۱۵م. ۴۵مخ)

دا بنو چې خنجر کښلی، **ساقي** تا يې سترګې سرې کړې
تنکی حُسن قاتل نه دی، عشقه تا چړې تېرې کړې
د قضا د مسند مشره! په نومو دوکه نۀ سې
مرګ اووه رباطه ليري، ژوند زما غاړې را پرې کړې
(ملا،۲۰۱۵م. ۶۷مخ)

## safár سفر

جمع يې سفرونه دي، مفرده نارينه کليمه ده، د يوه ځای څخه بل ځای يا نسبتاً لرېځای ته تګ، هغه لاره، چې له يوه ځايه څخه تر بل ځايه پورې وهل شوې وي، کډه کول، په سفر تلل، کوچ کول، روانېدل، لېږدېدل، لښل، سياحت، مسافرت او يون ته ويل کېږي، په اصطلاح کې کور، ولايت يا هېواد پرېښودلو يا له يوه ځای څخه بل ځای ته تګ سفر بلل کېږي.

په تصوف او عرفان کې د حق لورې ته د زړه توجه او له يوه مقام څخه د بل مقام خوا ته معنوي حرکت په سفر تعبيرېږي.(قادري، ۱۳۹۳ل. ۱۸۳مخ)

خيال يې لاس په زلفو کښيوست، بخت فالونه پکې ګوري
اوږده شپه تياره ځنګل دی، ګډې وډې لارې ليکې
دا **سفر** قلندري دی، په اسره د عقل نۀ سي
چې هر څو سترګې پرانيزې، لا ورکېږي لارې ليکې
(ملا، ۲۰۱۵م. ۴۶مخ)

## šeayx شيخ

جمع يې شيوخ او اشياخ دي، د اول توري په زور په لغت کې، شېخی ته رسېدلی، ديني عالم، مرشد، پير، د ډلې رييس، زوړ، لوی او يوه سړی، سپين ږيری، بزرګ، مرشد او خواجه ته ويل کېږي، په اصطلاح کې د طريقت هادي، رهنماء او استاذ، حق ته تعليم ورکوونکی، تربيت کوونکی، خدای جل جلاله ته رسوونکی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم نائب ته شيخ ويل کېږي.

په تصوف او عرفان کې: هغه کس دی چې د يوه بشپړ انسان په صفت يادېږي، په عالم ملک او ملکوت کې د الله تعالی جل جلاله له خوا تصرف ورته عطاء شوی وي يا عطاء کېږي، مقام يې تر ولي لوړ دی، په شريعت، طريقت او حقيقت کې کمال ته رسېدلی وي، دا درې علوم يې بشپړ کړي وي او د هغو چارو جاري ساتونکی وي، چې نبي صلی الله عليه و سلم په خپل ژوند کې ترسره کړي وي.

د تصوف اثر ښاغلی ليکوال يې په اړه ليکي: د طريقت هادي، رهنما او استاذ، طالبان حق ته تعليم او تربيت ورکوونکی او په خپل باطني فيضان او تصرف سره وصول الی الله ته رسونکي ته ويل کېږي. (قادري، ۱۳۹۳ل. ۲۱۶مخ)

**شيخه** ستا د عذاب دروند ږغ، د رندانو په محله کې
نړوي جنتي خوني، ورکوي د دُعا لارې
يو خوا حُسن، بل خوا مينه، ربه! ستا آدم مظلوم دی
په دې خته کې لړ اور دی، وربښيي د ګناه لارې
(ملا،۲۰۱۵م. ۳۶مخ)

## sofí صوفي

د اول توري په پېښ او دريم توري په زېر تلفظيږي، صوفيان او متصوفين يې جمع ده، په لغت کې وړين لباس اغوستونکي، نېک، پرهېزګاره، عابد او زاهد ته ويل کېږي، په اصطلاح کې هغه کس دی، چې د خدای جل جلاله پر لار روان وي، د تصوف د طريقت پيرو وي او په عوامو کې يې د پېژندلو تر ټولو ځرګنده نخښه د ږيرې درلودل دي.

د تصوف اثر ښاغلی ليکوال يې په اړه ليکي: د صوفي معنی ده: وريښمن پوښ، پرهيزګار، درويش، مخلص او متقي يا هغه سړی چې هغه خپل ځان د حق لارې ته سپارلی وي، د فقراوو په اصطلاح کې هغه سړی چې خپل زړه د غير له حق څخه پاک او صاف کړي. (قادري، ۱۳۹۳هـ. ش. ۱۱مخ)

(جنت غرَب) **صوفي** ته وايه: لړ حيا د رب له سترګو
حوري غواړې بې شماره، خو ذکرونه دې په شمېر دي
ځواني ولاړه شهی راغله، اوس به څه ګلان کرمه
چې نصيب يې مستي نۀ وي، وخت او بخت يې تېرو بېر وي
(ملا،۲۰۱۵م. ۹۰مخ)

## qalandár قلندر

د اول، دويم او څلورم تورو په زور تلفظيږي، قلندران يې جمع ده، په لغت کې ملنګ، ګرځنده درويش، مجرد، بې پروا او بې قيده ته ويل کېږي، په اصطلاح کې د دنيا تارک او د مال او دولت څخه لاس په سر کړي کس ته، قلندر ويل کېږي. (پښتو

– پښتو تشریحي قاموس، ۱۳۸۳ل. ۲۳۵۱)

په تصوف کې: قلندر او صوفي هم معنی الفاظ دي، خو د ځينو په آند قلندر هغه دی، چې تر حالاتو، مقاماتو او کراماتو تېر شوی وي یا ېېتجاوز کړی وي. (زاهد پښتو قاموس، ۱۳۸۵ل. ۷۵۱مخ)

مینه حق ده او حق راز دی، په سوزونو کې پټ ساز دی
منصور څکه سنګ باران سو، چې ویل یې پټ رازونه
**قلندر** له ښاره ووت، د (خودی) کچکول په غاړه:
( څومره لوی سوې زما وجوده؟ څومره تنګ سوه دا ښارونه)
(ملا،۲۰۱۵م. ۹۲مخ)

## کرامت karāmát

کرامات او کرامتونه یې جمع ده، په لغت کې لوېي، سترتوب، مېړاني، څوانمردی او بزرګی ته ویل کېږي، په اصطلاح کې د یوه داسې خارق العاده کار څرګندېدل دي چې د ایمان، اسلام او صالحه اعمالو سره برابر وي. (زاهد پښتو قاموس، ۱۳۸۵ل. ۷۸۰مخ)

وَلَبِثُوا فِي كَهْفِهِمْ ثَلَاثَ مِائَةٍ سِنِينَ وَازْدَادُوا تِسْعًا 25
د کهف سورت ۲۵ م آیت. ژباړه: او موده تېره کړه دغه زلمیانو په غار خپل کې درې سوه او زیات کړی وو دوی په دغو کلونو کې نهه.

په تصوف او عرفان کې: د ولي خرق عادت کار ته کرامت وایي، یعنې دا چې یو کار د عادي انسان تر وس (وسع) لوړ وي او د ولي په لاس یې خدای جل جلاله نورو بندګانو ته څرګند او روښانه کړي، کرامت بلل کېږي.

د عارفان اثر ښاغلی لیکوال لیکي: له پیغمبر پرته له بل شخص څخه د عادت خلاف کار پېښېدل دي. (محمد عبدالرحیم، ۱۳۸۶ل. ۱۷مخ)

یاره! زړه خو مې تنګ نه دی، راځه ته یې ځائیږي
خیال او مینې ته ور پوري، خوله په خوله یې ځائیږي
**کرامت** د عشق ته ګوره، په دې یو موټي زړګي کې
هم اووه اسمانه غم دی، او هم ته، یې ځائیږي
(ملا،۲۰۱۵م. ۶۱مخ)

## مُطرِب mutríb

مطربان یې جمع ده، د اول توري په پېښ او دریېم په زېر، په لغت کې سندرغاړي، سازنده، سازوهونکي، ساز غږونکي، ډم، ستار غږونکي او خوشحالوونکي ته ویل کېږي. (زاهد – پښتو قاموس، ۱۳۸۵ل. ۹۶۹مخ)

په تصوف او عرفان کې: مکمل شیخ، ساقي، بت، فیض رسانندہ، ترغیب دهنده، د رموزو، حقایقو او معانیو له کشف څخه عارفان خوشحالوونکی، آګاه کننده، عالم رباني، هغه څوک، چې د محبت ترانه اوروي؛ د مُطرِب په نامه یادېږي. (قادري، ۱۳۹۳ل. ۲۹۴مخ)

د هستی د **مطرب** غږ کې
دا ښـــایسته رباب د مینې
د نیستي شهباز پر نـاخې
ننــوي د زړګي ویـــنـــې
ګوره څو نغمې وي نوري، د دې ساز تودو پردو کې؟
ګوره څو افساني پاته، د دې لنډو ورځو شپو کې؟
(ملا،۲۰۱۵م. ۱۳۵مخ)

## میخانه mayxānā́

میخاني یې جمع ده، په لغت کې شراب خانې او مېکدې ته ویل کېږي، په اصطلاح کې هغه ځای دی، چې شراب پکې څښل کېږي.

په تصوف او عرفان کې شراب خانه، بت کده، عالم لاهوت، عالم جبروت، د کامل عارف باطن او د پیر خانقاه د میخاني په نامه یادېږي. (قادري، ۱۳۹۳هـ.ل. ۳۰۰مخ)

د ډېرې بت ماتېږي، که د زړو وي خرڅېږي
د "خان بُت" پر سر اخیستی، طوافونه د کعبې کړې
یو پردیس زاهد راغلی، **میخانه** په دعا سره ده:
"جام چې شوندو ته نژدې کړې، ربه! هیري یې توبې کړې"
(ملا،۲۰۱۵م. ۲۰مخ)

## وفا wafá

وفاوې یې جمع ده، واحده مؤنثه کلیمه ده، په لغت کې پت پالنې، د ملګرتیا پوره – پوره خیال ساتنې، سر ته رسونې، ملګرتیا کونې، د جفا ضد او دوستی ته ویل کېږي، په اصطلاح کې د یارانې او دوستی وعده پوره کولو ته وفاء ویل کېږي.

د عارفانو په نظر هغه اعمال دي، چې بنده د خدای تعالی جل جلاله سره د هغو د پر ځای کولو ترون کړی دی، همدا

شاني د الهي اوامرو او ازلي عناياتو پېژندني ته هم وفاء ویل کېږي.

د ځينو نورو صوفيه کرامو په آند: وفا ازلي عنايت ته ويل کېږي.(قادري، ۱۳۹۳هـ.ل. ۳۳۰مخ)

عشق بیغت له **وفا** اخلي، عافيته! خبردار!
ښار مقتل د فرزانه دښت ميدان د کربلا
سترګو! پټ پردو کې ښۀ دی، ها د حُسن مصلحت
د جلوې په يو انداز يې، نړېدلی "غر موسا"
(ملا،۲۰۱۵م. ۲۳مخ)

## گل gul

ګلان او ګلونه يې جمع ده، د اول توري په پيښ، په لغت کښې – غټې ږلی، خلاصې شوې غوټی، معشوق، پر وجود د داغلو نخښه، د ډېوې د هغې حصې پاته سر چې سول کېږي، دَ سترګو هغه ناروغي چې دَ سترګو ککی سپينه شي او ليدل يې ختم شي او غټې غوټی ته هم ويل کېږي، په اصطلاح کې ښايسته او ښکلې رنګا رنګ پاڼې دي چې سره مبنې وي.

په تصوف او عرفان کې: د عمل نتيجه، د معرفت لذت د ټول عالم په ډول ګل بلل کېږي، ځکه چې په عالم کې د حق معرفت موجود دی. (قادري، ۱۳۹۳ل. ۲۷۸مخ)

آدم زاد که د خپل عقل، قدر خپله پېژندلای
دا ناپوهه دا سر زوره، بد کرداره به خر نه وای
ژونده! ستا اغزنه شپه به، ما په يو آه وه سوځلې
که يې **ګل** مخ ته سپر نه وای، که اميد د سحر نه وای
(ملا،۲۰۱۵م. ۷۲مخ)

## مناقشه

د تېرو شوو آثارو سره د دې څېړني موافقي نقطې: د تصوف او عرفان تعريف او ډولونه دي، د تصوف او عرفان ترڅنګ نور موضوعات هم يکېراغلي دي او په پرله پسې ډول راغلي دي، تعريف راوړل شوی دی، خو ډېره تشريح يې نه ده شوې او د موضوعاتو يادونه په لنډ ډول يکې راغلي ده، خو مخالفي نقطې يې دا دي: چې په هغو ليکنو کې عرفاني نومونې په لنډ او خلص ډول وې، دلته په بشپړ او مشرح ډول سره راغلي دي، د تصوف په اړه په ټولو ليکل شوو آثارو کې د تصوفي نومونو يادونه شوې خو د عطايي ملا تصوفي اصطلاحات تر اوسه پورې په هيڅ اثر کې نه دي څېړل شوي. بله دا چې په زياترو تصوفي کتابونو کې موضوعات بېلابېل دي، دلته يوازې او يوازې د وخت ضرب اثر تصوفي او عرفاني نومونې راغلي دي، هره اصطلاح له هره اړخه تشريح شوې، موضوع يوه ده او په بشپړ ډول سره څېړل شوې ده. همدا ډول د تصوف په اړه په ټولو آثارو کې د تصوف او عرفان يو توپير راغلی دی، خو دلته يې درې توپيرونه څرګند شوي دي او په مشرح ډول سره راغلي دي.

## پايله

د څېړنې پايله دابنيي، چې د ښاغلي عطايي ملا په اثر (د وخت ضرب) کې شاوخوا پنځه ويشت عرفاني او تصوفي اصطلاحات وموندل شول، چې په اول قدم کې د يادو اصطلاحاتو لغوي ماناوې راوړل شوې، بيا يې عامه اصطلاحي مانا وليکل شوه او په آخر کې يې عرفاني او تصوفي اصطلاحي مانا راوړل شوې او بېلګه يې د عطاء يې ملا له اشعارو څخه راخيستل شوې ده، ښاغلي عطايي ملا ټول عرفاني او تصوفي اصطلاحات په خورا هنريت سره کار کړي دي، د ښاغلي ملا د داسې هنري کارونې څخه څرګندېږي، چې هغه له عرفان او تصوف سره ښه آشنا دی او خاصه اړيکه ورسره لري.

## وړانديزونه

1. د تصوف مينه وال او څېړونکي دې، په معاصرو نظمونو کې تصوفي او عرفاني نومونې وڅېړي.
2. د موضوع د لا ښه روښانتيا او مستندوالي له پاره دې، په عصري او ديني زده کړو سمبال علماء، د دې موضوع اړوند د قرانکريم يو –يو آيات او يو –يو حديث ولټوي.
3. د تصوف او عرفان له پاره دې د لوړو زدکړو وزارت او علومو اکاډمی تصوفي او عرفاني فرهنګ جوړ کړي.

## ماخذونه


القرآن الكريم

القادري، ش. (۱۳۹۱ش). اسانه تصوف. کندهار: عمر عاصم نشراتي مرکز

الکاشانی، ع. ر. (١٤١٣ هـ) . معجم الاصطلاحات الصوفية. القاهرة: دارالمنار للطبع والنشر والتوزيع

ايوبي، م. ن. (١٤٣٤هـ. ق). عرفان. کوټه: صحاف نشراتي مؤسسه

سعیدی، گ. (۱۳۸۷ ه.ل). فرهنگ جامع اصطلاحات عرفانی با تکيه بر آثار ابن عربی. تهران: شرکت قلم

قادري، م. ع.(۱۳۹۳ ل). تصوف. کندهار: صديقي خپرندويه ټولنه

گوهرين، س.ص. (١٣٧٦). شرح اصطلاحات تصوف، (جلد اول، چاپ دوم). تهران: انتشارات زوار

ملا، ع.هـ. (۲۰۰۷م). د وخت ضرب. کوئټه: ځلاند صحاف خپرندویه ټولنه

محمد ع. ر. (۱۳۸٦ هـ. ل.). عارفان، (اول ټوک). ژباړن: امل عبدالحکیم. کابل: میوند خپرندویه ټولنه

**قاموسونه**

بېلابېل. (۱۳۸۳ل.) پښتو – پښتو تشریحي قاموس، (اول ټوک). کابل: میدیوټک (د افغانستان لپاره د ټولیزو رسنیو مرکز)

بېلابېل. (۱۳۸۳ل.) پښتو – پښتو تشریحي قاموس، (دوهم ټوک). کابل: میدیوټک (د افغانستان لپاره د ټولیزو رسنیو مرکز)

بېلابېل. (۱۳۸۳ل.) پښتو – پښتو تشریحي قاموس، (څلورم ټوک). کابل: میدیوټک (د افغانستان لپاره د ټولیزو رسنیو مرکز)

دهخدا، ع. ا. (۱۳۱۹ل.). دهخدا قاموس. تهران: چارخانه بانک ملی

زاهد مشوانی، ع. ق. (۱۳۸۵ل.) زاهد پښتو قاموس. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه

عمید، ح. (۱۳۸۱ل.) فرهنگ عمید. تهران: مؤسسه انتشارات امیر کبیر

**پر لیکه (انلاین) قاموسونه**

شعشوع، ف. (۲۰۱۰م.). المعاني عربي – عربي
https://www.almaany.com

شعشوع، ف. (۲۰۱۰م.). المعاني عربي – فارسي
https://www.almaany.com/ar/dict/ar-fa